مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهولی اړین
۲۰۲۶/۰۹/۲۷

# د ځوانانو ځواک

## (پنځمه او وروستۍبرخه)

په افغانستان کې د څو لسیزو جګړو او د سیاسي ټیکاو نه شتون، تل د دغه هیواد د پوهنې او تحصیلي نظام په وړاندې د هیواد د نارینه او ښځینه ځوان نسل، تنکیو ځوانانو لپاره یو ستر ګواښ او د سترو ستونزو په توګه د یادولو وړ ګڼل کیږي.

سیاسي تحولات او د سیاستوالو د ایډیولوژیو بدلون خپلې ژورې اغیزې نه یوازې په ټولو متعلمینو او محصلینو باندې پریښې، بلکې د افغانستان د پوهنې او تحصیلي نظام ټولې چارې یې ټکنۍ کړې دي. په ځانګړې توګه د دغه تحول لمن علمي او تخصصي کادرونه، روزنیزه زیربناوې، روزنیز نصاب او حتی د متعلمینو او محصلینو شتون یې هم له سترو ګواښونو سره مخ کړي دی.

پوهنې او روزنې ته د پام وړ لاسرسي په برخه کې د خنډونو او ستونزو سربېره، د افغانستان روزنیز نظام د درسونو د زده کړې له بحران سره مخامخ و او دی. یو شمېر نور لاملونه او فکتورونه، چې د درس د زده کړې د کموالي او په پایله کې د زده کړو د بحران سبب ګرځي، هغه د ښوونکو د تحصیلي سویې ټیټوالی، د زده کړو لپاره ناسم روزنیز چاپېریال په وسایلو مجهز د درسي خونو نه شتون او د هغه شمېر ښوونکو شتون، چې اکثره یې د تدریسي چارو پوهه او تخصص نهلري او له علمي اړخه په شرایطو برابر نهدي، د یادولو وړ بولم.

د امریکا د شل کلن استعمار په موجودیت کې په لوړه کچه د خصوصي مکتبونو او پوهنتونونو د پرانستلو په موجودیت کې بیا هم له پخوا نه تعلیمي نصاب او د زده کړو کیفیت بې خونده وګرزید، ځکه د وخت د تحصیلي موسساتو په تناسب د مسلکي او تخصصي استادانو نه شتون، بې کیفیته زده کونکي او محصلین ټولنې ته استخدام کړل، چې دا په خپله یوه نه جبرانیدونکې ستونزه وه.

په دغه موده کې د ټولو امکاناتو په شتون کې بیا هم د ځوانانو له ځواک نه د هیواد په اساسي او بنیادي برخه کې ګټه وا نه خستل شوه، په زرګونو ځوانان د کار د نه شتون، تربیتي او ورزشي امکاناتو ته د نه لاس رسي له امله مخدره توکو او نورو غېر اخلاقي اوغیر اسلامي کړنو ته مخه کړه، په خاص ډول د ځوانو نجنو او ښځو نه د ناوړه استفادې مرکزونه پرانستل شول چې حتا د پارلمان د یوشمېر ښځینه وکیلانو له خوا په ډېره بې شرمانه توګه بهرنیو او د دولت عالي رتبه کسانو ته ځواني نجونې د ډالیو په توګه د فحش او فحشا لپاره وړاندې کېدې، زه نه غواړم چې نومونه یې واخلم خو هیوادوالو ته دغه څېرې ښې معلومې دي، چې دا اوس هم په بهرنیو هیوادو کې په ډېره بې شرمانه توګه د هیواد د ازادۍ او هیوادوالو ته د خدمت چیغې وهي.

د تېر شل کلن ناورین تحمل د طالبانودوم ځل راتګ افغان ولس ته نوي امیدونه او هیلې ور په برخه کړی، داسې سوچ کېده چې د طالبانو هغه تعهد او وعدې چې د دوحې د تړون په وخت کې یې کړې وې هغه به عملي شي، د یو اسلامي نظام په راتګ سره به د افغانانو هیلې او مشروع حقونه تر لاسه شي، په خاص ډول د ځوان نسل مشروع حقونه او له دغه ځواکمن ځواک نه به د هیواد د پرمختګ په لار کې موثره ګټه پورته شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په ډېره خواشينۍ سره چي ځوان نسل ته، نه دا چي مؤثر امکانات برابر نهشول، بلکه د ځوانو نجنو پر مخ د ښوونځيو دروازې وتړل شوي د زرګونو ديني مدرسو په پرانستلو سره د عصري علومو د زده کړو چي د يوې ټولني او نظام اساسي او د اوسني وخت ستره اړتيا ګڼل کېږي مخه ډب کړل شوه، په دې کې شک نه شته چي ديني او اسلامي زده کړې هم د يوې ټولني اړتيا ده، خو نننۍ نړۍ تر هر څه ډېر عصري علومو اوتکنالوژيو ته اړتيا لري چي ځوان نسل يې د خپل مؤثر ځواک له امله ژر او په سيستماتيک ډول تر لاسه کولای شي او د ښه عملي کيدو ځواک يې هم لري. که څه هم د طالبانو له راتګ سره په هېواد کي عمومي امنيت تر ډېره حده ښه شوی، خو د کار د نشتوالي د لوړو زدهکړو، مسلکي پرمختګ او په ادارو کي د کار کولو په برخه کي ځوانان له سترو خنډونو او سختو شرايطو سره مخ شول، همدا لامل دی چي ګڼ شمېر افغان ځوانان هېواد پرېږدي او د قاچاقي لارو د سختو شرايطو په ګاللو سره کډوالی ته مخه کوي، چي د نجنو پر مخ د ښووننځيو د دروازو تړل د کډوالی پروسه نوره هم ګړندی کړه او زيات شمېر هېواد وال هېواد پرېښودو ته اړويستل شول.

درنو لوستونکو افغان ځوانان د خارق العاده استعداد او بې ساری ځواک لرونکي دي ، په ډېره خواشينۍ سره چي د هېواد په تېر تاريخ کي د هېواد د اقتصادي کمزورتيا او د وخت د مشرانو ورته د نه پاملرني له امله له دغه سرشاره ځواک نه د هېواد د ابادۍ او پرمختګ په لار کي سمه استفاده نه ده تر سره شوي او نه دغه ځواک ته د ښه ژوند او زده کړو شرايط برابر شوي دي.

ليدل کېږي هغو نارينه او ښځينه ځوانانو ته چي په هېواد او يا د هېواده بهر د مهاجرت په شرايطو کي امکانات برابر شوي د نړۍ په کچه يې د افغانستان نوم لوړ ساتلی دی، د مثال په توګه عايشه وهاب د خپل لياقت له مخي د امريکا کانګريس ته لار پيدا کړه، سمېرا نوا اميني په دنمارک کي د اقليم، انرژي وزارت ته ورسيده، هوسی ظريف اندړ په المان کي وکيله شوه، راشد خان، صديق اتل، ابراهيم خدران، رحمن الله ګربز په نړۍ کي د کرکيټ برجسته ستوري شمېرل کېږي، نديم امېري د فوټبال ستوری، علی اکبر اميري، محسن رضايي، اميد سهاک، روح الله نيکپا، هارون فيضي، ياقوت شاه حکيمي، بازمحمد مبارز د تکوناندو، بوکس او رزمی هنرونو قهرمانان دي چي تل يې خپل هېواد ته وياړونه په برخه کړي او د نړۍ په هر ګوټ کي يې د افغانستان ملي بيرغ رپولی او د هېواد ملی سرود يې غږولی دی، ليدل کېږي چي په پورتني ترکيب کي د هېواد د ټولو قومونو استازي شتون لري خو ټول د افغان په نوم او د وياړلی افغانستان په نوم خپل افتخارات د خپل هېواد ولس ته ګټلي دي.

نصيبالله يو بل د ستر استعداد لرونکی ځوان دی چي په خپل ابتکار يې د لومړی ځل لهپاره په نشته امکاناتو کي يو محاربوی ټانګ جوړ کړ.

فاطمه غوري هم هغه يوه افغانه پښتنه ده چي په نيوزيلند کي د انجينرۍ او تکنالوژۍ په نړيواله سيالی کي لومړی مقام خپل کړی دی.

پورتني استعدادونه دا په ډاګه کوي که افغان ځوانانو ته امکانات او شرايط برابر شي ډېر ژر کولای شي چي د هېواد په رغاونه او پرمختګ کي مثبت رول ولوبوي.

غواړم يو ځل بيا ټينګار وکړم چي، افغانستان داسي نوي نسل، سياسي مشرانو ته اړتيا لري چي له تېرو ناکاميو يې درس اخيستی وي؛ داسي مشران چي ملي ګټې د شخصي، قومي او ډلهيزو ګټو پر ځای لومړيتوب وګرځوي او وکولای شي د افغانستان د خلکو، سيمهيزو هېوادونو او نړيوالي ټولني تر منځ اغېزمنه او متوازنه سياسي اړيکه رامنځته کړي. نو ځکه له طالب چارواکو نه د افغانانو اساسي غوښتني همدا دي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ